

# د افغانستان بانک

( بانک مرکزی)

۱۳۸۷

# کلنی - راپور - سالانه

**د افغانستان بانک**

( بانک مرکزی)

# کلنی راپور

# ۱۳۸۷

www. centralbank.gov.af

**دافغانستان بانک کلنی راپور**

د اړیکو او خپرونو مدیریت

چمتو کونکی: عبداللطیف بایاني

ایډیټر: ایمل هاشور

عکس: زیرک ملیا

ژباړه: عین الله عیان

ډیزاین: عبدالقیوم رووف ارغند او یما عفیف

پته: د افغانستان بانک، ابن سینا واټ، کابل – افغانستان

ټلفن: ۲۱۰۳۸۱۵-۰۲۰ -۲۱۰۴۳۶۱

بریښنا لیک: info@centralbank.gov.af

ویب پاڼه: www.centralbank.gov.af

# دافغانستان بانک مشرتابه پلاوی



د افغانستان بانک د ټولو رییس عبدالقدیر فطرت، د افغانستان بانک لومړی مرستیال محب الله صافی او د افغانستان بانک دویم مرستیال الحاج محمد عیسی طراب

# لړلیک


د افغانستان بانک د لوړ رئیس پیغام ........................................ الف
پولي سیاست........................................................................ ۱
د افغانستان بانکي نظام........................................................... ۶
د بازار عملیات..................................................................... ۱۳
د تادیاتو سیستم.................................................................... ۱۵
مالي صورت حساب................................................................ ۱۸
اداره او پراختیا...................................................................... ۲۰

# د افغانستان بانک د لوی رئیس پیغام

د افغانستان بانک د عالي شورا او مشرتابه پلاوي په استازیتوب خوښ یم چې د افغانستان بانک د کړنو او سیاستونو کلنی راپور، تاسو ته وړاندې کوم. دا راپور په ۱۳۸۷ هجري لمریز کال کې د اقتصادي ودې تر څنګ، پولي سیاست، د بازار عملیات، تادیاتي نظام، مالي صورت حسابات، د افغانستان د بانکي نظام پراختیا او وده او همدارنګه د افغانستان بانک اداري پرمختګونه رانغاړي.



له هغه ځایه چې د افغانستان بانک له ډېرو مهمو او بنسټیزو دندو څخه یو هم د قیمتونو د ثبات خوندیتوب او د افغانی د مبادلوي نرخ د سختو نوساناتو مخنیوی او په ورته وخت کې د افغانستان د بانکي نظام پیاوړتیا او پراختیا ده؛ ۱۳۸۷ هجري لمریز کال که څه هم د پولي سیاست په برخه کې له ستونزو او ننګونو ډک کال و، خو له دې سره بیا هم د افغانستان بانک بریالی شو چې په بیلابیلو برخو کې ښې او د پام وړ لاسته راوړنې ولري.

په ۱۳۸۷ هجري لمریز کال کې د کورنی ناخالص تولید وده ۳،۵ سلنې ته ټیټوالی وموند، چې اصلي لامل یې د وچکالی له امله د کرنیز سکتور ټکنی وده وه او دا ستونزه د دې لامل شوه چې په اقتصادي وده کې د کرنیز سکتور رول د تېر کال په پرتله ۲ سلنه ټیټوالی پیدا کړي. د پړسوب (تورم) نرخ د همدې کال په لومړیو کې په نړیوالو بازارونو کې د خوراکي توکو او سون موادو د بیو د زیاتوالي له امله ۳۴،۲ سلنې ته ورسیده، خو د کال په پای کې بیرته ۳،۲ سلنې ته راټیټ شو. په منځنې توګه په ۱۳۸۷ هجري لمریز کال کې د تورم نرخ په سلو کې ۲۶،۸ و. سرانه عاید هم د کورنی ناخالص تولید د ۳،۵ سلنې ودې په پام کې نیولو سره ۴۲۹ امریکایي ډالرو ته ورسید چې زمونږ د هېوادوالو د ژوندانه د ښه کېدو ښکارووندی دی.

په ۱۳۸۷ هجري لمریز کال کې د افغانی مبادلوي نرخ د یو امریکایي ډالر په وړاندې ۴۹،۵۶ او ۵۲،۶۷ افغانیو تر منځ و. په منځنی توګه د افغانی ارزښت د ډالرو په وړاندې په سلو کې شاوخوا ٤،٥ ټیټوالی وموند چې لامل یې په نړیوالو مالي بازارنو کې د ډالرو د ارزښت لوړوالی و، خو په همدې کال کې د افغانی ارزښت د یورو په وړاندې په سلو کې ۱۲،۸٤ زیاتوالی وموند. همدا ډول افغانی د پاکستانی روپیی په وړاندې له ډېر ښه ثبات څخه برخمنې وې او د تېر کال په پرتله د پاکستانی روپیی په وړاندې یې ارزښت په سلو کې ۱۷،۶۸ زیاتوالی وموند.

د هېواد اسعاري زېرمې چې ورځ تر بلې زیاتیږي او د افغانستان بانک له ښو لاسته راوړنو څخه شمېرل کیږي، په ۱۳۸۷ هجري لمریز کال کې درې ملیارده او شپږ سوه ملیونه ډالرو ته ورسیدې چې د ۱۳۸٦ هجري لمریز کال په پرتله ۵۰ سلنه وده ښکاره کوي؛ په داسې حال کې چې د هېواد اسعاري زېرمې په ۱۳۸۱ هجري لمریز کال کې د سرو زرو په ګډون څه کم ۵۰۰ ملیونه ډالره وې؛ دا زیاتوالی په ښه توګه ښکاره کوي چې د افغانستان بانک توانیدلی دی چې پدې څو ورستیو کلونو کې، د هېواد اسعاري زیرمې په ښه توګه اداره او کنټرول کړي.

همدا ډول، په ۱۳۸۷ هجري لمریز کال کې د افغانستان بانکي نظام د پام وړ پراختیا وموندله او د بانکي نظام شتمنی ۱۴۴،۹۸ ملیارده افغانی(۲،۲۸ ملیارده ډالر) ته ورسیدې، چې د تېر کال په پرتله په سلو کې ٦۱ وده لري او د خلکو امانات هم په همدې کال کې د تېر کال په پرتله په سلو کې ۸٤ ودې سره ۱۱۸ ملیارده افغانی(۲،۲۸ ملیارد ډالر) ته ورسیدل او په ورته وخت کې د بانکي نظام پورونه هم د تېر کال په پرتله د ۲٦ سلنې ودې سره له ۵۰ ملیارده افغانی (۹۸۱ ملیون ډالرو) څخه زیات شول. د افغانستان مالي نظام په همدې کال کې د ۲٥٤ نمایندګیو او خدماتي واحدونو له لارې د هیواد په ۳۰ ولایتونو کې بانکي خدمات وړاندې کول چې دې چارې مالي خدماتو ته د خلکو د ښې لاسرسی په برخه کې ډېر ښه رول لرلی دی.

همدا ډول د افغانستان بانک په ورته وخت کې د خپلو کاري چارو د لا ښه پر مخ بیولو لپاره، په ۱۳۸۷ هجري لمریز کال کال کې د اداري پراختیا او پرمختګ له امله هم زیاتې لاسته راوړنې درلودلي دي چې د هېواد د مرکزي بانک او مالي نظام د چارو په چټکتیا او روڼتیا کې یې ډېر ښه رول لرلی دی. همدارنګه په همدې کال کې مرکزي بانک د رفورم او تشکیلاتي اصلاحاتو لړۍ تر لاس لاندې ونیوله او د افغانستان بانک خپل فعالیتونه د مرکزي بانک پر مهمو دندو لا زیات متمرکز کړل. په ټولیزه توګه د افغانستان بانک په ۱۳۸۷ هجري لمریز کال کې د اداری، پراختیا، بانکي قوانینو او مقرراتو په برخه کې ښې سارې لاسته راوړنې درلودې او د خپلو کارکونکو د ظرفیت په لوړوالي کې نه ستومانه کېدونکې هلې ځلې وکړې. زه د افغانستان بانک د ټولو کارکونکو د زیار او هاند څخه د زړه له کومې مننه کوم او هیله لرم چې د ټولو کارکونکو په دوامداره هلو ځلو سره د افغانستان بانک؛ د پرمختګ، پراختیا او پرمختیا پوړۍ شاته پریږدي او د بیو په ټیکاو، د مالي نظام په پراختیا او د پولي سیاستونو په ټینګښت کې ښه رول ولوبوي.

**عبدالقدیر فطرت**



**د افغانستان بانک د ټولو رئیس**

اقتصادي وده

پولي تورم(انفلاسیون)

تقدینه ګي (سیالیت)

د مبادلې نرخ

سرانه عاید

# پولي سیاست



# پولي سياست

پولي سياست، د مالي سياست تر څنګ، د هيواد د اقتصاد د کُلي سياستونو له مهمو ارکانو څخه شميرل کيږي چې د اقتصادي فعاليتونو لپاره د ښه چاپيريال په برابرونې کې بنسټيز رول لري. د افغانی د مبادلوي نرخ د ثبات د خونديتوب له لارې د پولي تورم د نرخ کموالی، د خدماتو او توکو په وړاندې د پيسې د عرضې انډول ساتل او د هيواد د اقتصاد اړتيا څخه زيات د نقدينه ګۍ (سياليت) کنټرول، د پولي سياست له مهمو هدفونو څخه شميرل کيږي.

د افغانستان بانک د پولي سياست د ارزونې په موخه، د پيسو نړيوال صندوق د بيوزلۍ کموالی او د اقتصادي ودې آسانتيا (PRGF) برنامې په اډانه کې درې هدفونه ټاکلي دي چې عبارت دي له:

۱– په جريان کې د پيسو کچه، ۲ـ د اسعاري زيرمو کچه او ۳ـ د احتياطي پيسو کچه.

ياد شوي اهداف چې د يو مالي کال لپاره ټاکل کيږي، د پيسو د نړيوال صندوق د پلاوي لخوا په ربعوار ډول ارزول کيږي او د افغانستان بانک توانيدلی دی د ۱۳۸۷ کال په درې لومړيو ربعو کې، ياد شويو هدفونو ته ورسيږي. د يادونې وړ ده چې د افغانستان د بهرني پورونو د معافيت د برنامې رسميت موندنه او د پورونو د معافيت برنامې بشپړ ټکي (HIPC – Initiative) ته رسيدل، نيغ په نيغه د بيوزلۍ کموالی او د اقتصادي ودې د آسانتيا له برنامې سره نه بيلدونکی شرط ګڼل کيږي.

## اقتصادي وده

د تېرو اوو کلونو په اوږدو کې د افغانستان اقتصادي وده په منځنۍ ډول په کال کې شاوخوا ۱۳سلنه ثبت شوې ده، چې عمده لامل يې د اقتصادي کړنو زياتوالی او نړيوالې مساعدتونه ګڼل کيږي.

په ۱۳۸۷ هجري لمريز کال کې د افغانستان اقتصادي وده په سلو کې شاوخوا ۳،٤ اټکل شوی ده، چې ارزښت يې شاوخوا ۵۹۶ مليارده افغانی(۱۱،۸٤۰مليارده امريکايي ډالره) کيږي، په داسې حال کې چې تير کال اقتصادي وده په سلو کې ۱۲،۱ وه، چې ارزښت يې ٤۸۱ مليارده افغانی(۹،۷٤۸ مليارده ډالره) ؤ.

په ۱۳۸۷ هجري لمريز کال کې د اقتصادي ودې د کموالي يو اصلي لامل د کرنيزو محصولاتو کموالی او د تير کال په پرتله د دې سکتور ضعيفه رول ؤ. د دوامدارې وچکالۍ او د لړ ورښت له کبله د تير کال په پرتله په اقتصادي وده کې د کرنې سکتور رول په سلو کې ۲ ټيټوالی وموند او دا کار د دې سبب شو چې افغانستان، د انتقالي ادارې له جوړېدو وروسته، د لومړي ځل لپاره د تر ټولو کم اقتصادي ودې شاهد وي.

د کرنې سکتور چې په ۱۳۸۱ هجري لمريز کال کې د کورنې ناخالص توليد ٤۹،۸ سلنه جوړوه، د وخت په تېريدو سره يې رول په کورنی ناخالص توليد کې کم شو او د ۱۶،۵ سلنې کموالي سره يې په ۱۳۸۷ کال کې د کورنې ناخالص توليد يوازې۳۱ سلنه جوړوه؛ خو دې سکتور تېر کال د کورنې ناخالص توليد ۳۳ سلنه جوړوله.

همدا ډول د صنعت سکتور هم په همدې کال کې د کورنې ناخالص توليد په سلو کې ۲٤،۲ جوړوه، په داسې حال کې چې دا برخه تېر کال۲۵،۱ سلنه وه. په ۱۳۸۱ هجري لمريز کال کې دې سکتور د کورنې ناخالص توليد يوازې۲۰،۱ جوړوه. په همدې کال کې د کانونو صنعت او ودانيزه صنعت هر يوه د۳۰ سلنې او۱۰ سلنې ودې سره د صنعت په سکتور کې لوړ ځای درلوده.

د خدماتو سکتور هم د کورنې ناخالص توليد له ډېرو مهمو سکتورونو څخه شمېرل کيږي. دې سکتور په ۱۳۸۷ هجري لمريز کال کې د کورنې ناخالص توليد ٤٤،۹ سلنه جوړوه، په داسې حال کې چې په ۱۳۸۶ هجري لمريز کال کې برخه يې په کورنې ناخالص توليد کې په سلو کې ٤۱،۹ وه او په ۱۳۸۱ هجري لمريز کال کې په سلو کې د دې سکتور برخه په کورنې ناخالص توليد کې۳۰،۱ سلنه وه.

**لاندې جدول په تېرو کلونو کې د هېواد د اقتصادي ودې ځينې مهم شاخصونه وړاندې کوي**

| | ۱۳۸۱ | ۱۳۸۲ | ۱۳۸۳ | ۱۳۸۴ | ۱۳۸۵ | ۱۳۸۶ | ۱۳۸۷ (اټکل) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د ناخالصه ملي توليداتو واقعي وده | ۲۸،۶ | ۱۵،۱ | ۹،۴ | ۱۶،۱ | ۸،۲ | ۱۲،۱ | ۳،۴ |
| د ناخالصه ملي توليداتو اسمي وده ( مليارد افغانی) | ۱۸۳ | ۲۲۵ | ۲۸۶ | ۳۲۲ | ۳۸۶ | ۴۸۱ | ۵۹۶ |
| د ناخالصه ملي توليداتو اسمي وده(مليارد امريکايي ډالر) | ۴،۰۸ | ۴،۶۰ | ۵،۹۵ | ۶،۴۸ | ۷،۷۵ | ۹،۷ | ۱۱،۸ |
| د پولي پړسوب نرخ ( د کال پای) | ۲۶،۶ | ۱۰،۱ | ۱۴،۹ | ۹،۵ | ۴،۷ | ۲۰،۷۳ | ۳،۲ |
| د پولي پړسوب نرخ ( د کال اوسط) | ۵،۱ | ۲۴،۱ | ۱۳،۲ | ۱۲،۳ | ۵،۱ | ۱۳ | ۲۶،۸ |
| ملي سرانه عايد (امريکايي ډالر) | ۱۸۲ | ۱۹۹ | ۲۵۳ | ۳۰۰ | ۳۳۵ | ۳۸۳ | ۴۲۹ |

## پولي تورم(انفلاسيون)

د افغانستان بانک د پولي انقباضي سياست په پلي کولو سره، د پولي پړسوب د نرخ کورني لاملونه په کنټرول کې لري. خو له هغه ځايه چې افغانستان يو واردونکی هېواد دی، نو ناچاره په نړيواله کچه د تورم ځنځه اغيزمن کېږي. که څه هم د همدې کال په لومړنی نيمايي کې، د تورم نرخ په پرله پسې توګه په سلو کې ۳۰ څخه لوړ و، خو د تلې مياشتې وروسته د تورم د نرخ ګراف نزولي بهير درلوده او د ۱۳۸۷ کال د کب مياشتې د شميرو له مخې په هيواد کې د تورم نرخ ۲،۳ سلنې ته راټيټ شوی و. څرنګه چې وويل شو د ۱۳۸۷ هجري لمريز کال په پيل کې، د تورم نرخ، په نړيوالو بازارونو کې د خوراکي توکو او د سون موادو د بيو د زياتيدو له امله سلو کې نږدې ۴۳،۲ ته ورسيد، خو د کال په پای کې، د مالي کړکيچ د پيل له امله او د نړيوال اقتصادي رکود په پايله کې، د تورم نرخ ورو ورو نزولي بهير پيل کړ او څرنګه چې اشاره وشوه په سلو کې ۳،۲ ته راټيټ شو.

بايد څرګنده کړو چې د اقلامو په لګښتي ټوکری(CPI) کې د خوراکي موادو ونډه په سلو کې ۶۱،۳ او د سون موادو ونډه په سلو کې نږدې ۷ ده. د دې دوو برخو په بيو کې زياتوالی کولای شي په هېواد کې د تورم د نرخ د زياتوالي لامل شي او په پايله کې زمونږ هېوادوال او په خاصه توګه بيوزله خلک ډېر زيات زيانمن کړي.

له هغه ځايه چې نړيوال سازمانونه چې اقتصادي او پولي مسايلو په برخه کې کار کوي، باور لري چې د خوراکي توکو د بيو لوړوالی په خاصه توګه په هغه هېوادونو کې چې وارداتي اقتصاد لري، مقطعي نه وي او بنايي پر نورو توکو د هغوی د منفي اغيزې د مخنيوي لپاره وړ لارې چارې ولټول شي، نو اړين بريښي چې دولت د لنډ مهاله موخې په توګه د ستراتيژيکو زيرمو په جوړونې او د اوږد مهالي موخې په توګه پر بهر د

هېواد د ډېږي وهوني د کموالي او د کورنی اړتیا د کمېدو لپاره د افغانستان د کرنیز سکتور د ظرفیت د ودې لپاره جدي اقدامات تر لاس لاندې ونیسي.

د افغانستان بانک د پولي انقباضي سیاست په غوروالي سره، د پرسوب کورني لاملونه مهار کړي دي. سربېره پر دې د بهرنیو اسعارو په وړاندې د افغانی ارزښت تر یوې کچې پورې وکړای شول د وارداتي تورم او د مبادلوي نرخ نه راپورته شوی پرسوب جبران کړي.




## نقدینه ګی(سیالیت)

د افغانستان بانک د نقدینه ګی د کنټرول په موخه، د پیسو د نړیوال صندوق په مرسته د پولي سیاست لومړنی میکانیزم د بیوزلی د کموالي او د اقتصادي ودې د ګړندیتوب تر برنامې لاندې طرحه کړی، چې د هېواد د اقتصادي شرایطو په پام کې نیولو سره، په ګردښت کې پیسې(د پیسو عرضه) د اقتصاد د نقدینه ګی شاخص په توګه په پام کې نیسي. دا میکانیزم پر دې اقتصادي بنسټ ودریدلی دی چې بنایي د پیسو عرضه د هېواد د اسمي اقتصادي ودې سره سم وده وکړي، څو د پرسوب پر نرخ د هغې د منفي اغیزو مخنیوی وشي.

د ۱۳۸۷ هجري لمریز کال په اوږدو کې مرکزي بانک په دې بریالی شو چې په ګردښت کې د پیسو وده په پرله پسې توګه د پیسو نړیوال صندوق لخوا د ټاکل شوي کچې څخه ټیټه وساتي. د همدې کال لپاره په ګردښت کې د پیسو کچه په سلو کې ۳۳ ټاکل شوې وه. په دوران کې د پیسو کچه چې د ۱۳۸۷ کال په پیل کې ۵۹ ملیارد افغانۍ ته رسیدلې، د همدې دورې په پای کې په سلو کې ۳۰ ودې سره ۷۷ ملیارده افغانۍ ته زیاته شوې. له هغه ځایه چې په دوران کې د پیسو د کنټرول لپاره د بهرنیو اسعارو پلورل د افغانستان بانک د پولي سیاست له ابزارو څخه ګڼل کیږي، نو د ۱۳۸۷ کال په اوږدو کې څه باندې ۱۴۰۰ میلیونه ډالره په همدې موخه پلورل شوي دي.

د یادونې وړ ده چې د نقدینه ګی د زیاتوالی سره؛ د افغانی مبادلې نرخ د بهرنیو اسعارو په خاصه توګه د ډالرو په وړاندې لږ تر لږه د افغانستان بانک د پولي سیاست سره سم ثابت پاتې دی، چې د افغانستان بانک له ارزښمنو بریالیتوبونو څخه شمېرل کیږي.

د افغانستان بانک د اقتصاد د سیالیت د تنظیمولو په موخه، د بهرنیو اسعارو د پلور سربېره، په ۲۰۰٤ کال کې د بیه لرونکو پاڼو په پلور او په ۲۰۰٦ کال کې د سوداګریزو بانکونو لپاره د شپې حسابونو (overnight) په پرانیستنې باندې پیل وکړ. په ورته وخت کې د افغانستان بانک د سیالیت(نقدینه ګی) د تنظیم او کنټرول په موخه د بیه لرونکو پاڼو د دویم ګړي بازار د جوړولو کار تر ډېره حده پر مخ بیولی او ډېر ژر به مونږ په هېواد کې د دې بازار د جوړېدو شاهدانو اووسو.

## لاندې ګراف په ۱۳۸۷ کال کې په ګردښت کې پیسې ښکاره کوي




### د مبادلې نرخ

مرکزي بانك عملاً د افغانی مبادلوي نرخ تر موخې لاندې نه نیسي، خو بې له شکه پر اقتصادي شاخصونو د مبادلې د نرخ د نوساناتو منفي اغیزو ته متوجې وي او هڅه کوي چې د افغانی ارزښت په منل شوي کچه ثابت وساتي او د افغانی د مبادلې نرخ د سختو نوساناتو مخنیوی وکړي. د افغانی مبادلوي نرخ د امریکایي ډالرو په وړاندې په تیرو کلونو کې په پرله پسې توګه تل شاوخوا ۵۰ افغانی پاتې دی. خو د نړیوال مالي کړکیچ، د مهمو نړیوالو اسعارو لکه پونډ او یورو د پام وړ بې ثباتی او په پاکستان کې د اقتصادي کړکیچ او د ډالرو لپاره د تقاضا د ډیریدو په پایله کې افغانی هم د امریکایي ډالر په وړاندې ۴،۵ سلنه خپل ارزښت له لاسه ورکړ او د۱۳۸۷ هجري لمریز کال په بهیر کې افغانی د یو ډالر په وړاندې د ۴۹،۵۶ څخه تر ۵۲،۶۷ افغانی تر منځ مبادله کېده.

سره له دې چې په دې کال کې افغانی د ډالرو په وړاندې کم ارزښته شوې خو د یورو په وړاندې یې ارزښت د ۱۳۸۶ هجري لمریز کال په پرتله په سلو کې ۱۲،۸۴ زیات شو او په ورته وخت کې د پاکستانی روپیې په وړاندې هم د افغانی ارزښت د تیر کال په پرتله په سلو کې ۱۷،۶۸ زیاتوالی ومونده. په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کې د افغانی ارزښت د امریکایي ډالرو په وړاندې په سلو کې ۲،۲۶۸ او د یورو په وړاندې په سلو کې ۳،۵ کموالی موندلی و، خو د افغانی ارزښت د پاکستانی روپیی په وړاندې په سلو کې ۱۵،۷ زیات شوی و.

## د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلوي نرخ ګراف




باید یادونه وکړو چې د هېواد مرکزي بانک د ۱،۴ ملیاردو څخه زیاتو امریکایي ډالرو په پلورلو سره ، د افغانۍ د مبادلوي ارزښت د ډېر نوسان مخه نیولې ده، د بهرنیو اسعارو په وړاندې د افغانۍ د مبادلوي نرخ د نوساناتو کموالی او د تورم کنټرول په دې څو ورستیو کلونو کې د مرکزي بانک د پام وړ بریاوو څخه شمېرل کیږي چې دا د سیمې په کچه د مبادلوي ارزښت د ټیکاو یوه ښه بیلګه ګڼل کیږي او دا کار لامل شوی چې زمونږه هېوادوالو په افغانۍ باندې ورځ تر بلې لا زیات اعتماد پیدا کړي او په خپلو راکړو او ورکړو کې ورڅخه کار اخلي. د بانکي نظام شمېرې دا ښیي چې په افغانۍ د خلکو پورونه او امانات ورځ تر بلې زیاتیږي. په ۱۳۸٦ هجري لمریز کال کې د بانکي نظام پورونه په سلو کې یوازې ۲۵ په افغانۍ ؤ چې په ۱۳۸۷ کال کې په سلو کې ۲۷ ته ورسیده او د خلکو د اماناتو کچه چې تېر کال په سلو کې۲۱ وه، په همدې کال کې په سلو کې ۴۱ته ورسیده چې دا وده پر افغانۍ د خلکو د لا اعتماد ښکارندوي کوي.

د یادونې وړ ده چې د مبادلوي نرخ کموالی د واردونکو توکو پر قیمت او د خصوصي سکتور د پانګه اچونې په پلان جوړولو باندې محدود منفي تاثیرات لري. په ورته وخت کې د مبادلې د نرخ حقیقي کموالی به د هېواد د صادراتو لپاره د لا زیاتې تقاضا لامل شي؛ بر عکس د افغانۍ د مبادلې د ارزښت لوړیدل د افغاني صادراتي توکو د کموالي او د وارداتي توکو د زیاتوالي لامل کیږي.

### سرانه عاید

سرانه عاید، کال په کال؛ د کورنـۍ ناخالص تولیـد د ودې، د اقتصادي پراختیا، د کرنې، خدمات او صنعت په سکتورونو کې د پانګه اچونې په پام کې نیولو سره ډېریـږي. پـه ۱۳۸۱ هجـري لمریز کال کې چې افغانستان له درې لسیزو جګړو څخه نـوی دباندې راوتی ؤ او ټول اقتصادي بنیادونه او بنسټونه یې ویجاړ شوي و، دې سره سره چې اقتصادي وده په سلو کې ۲۸،٦ وه، خو سرانه عاید ۱۸۲ امریکـایي ډالـره و، خـو پـه ۱۳۸۷ هجـري لمریز کال کې د سرانه عاید کچه٤۲۹ ډالرو ته ورسید؛ په داسې حال کې چې تېر کال دا کچه یوازې ۳۸۳ امریکایي ډالره اټکل شوی وه چې د سرانه عاید د کچې دازیاتیـدل زمونـږ پـه هېـواد کې د اقتصادي پراختیا او پرمختیا ښکارندوي کوي.

د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی

د افغانستان د بانکي نظام ټولیزه شتمني

د افغانستان د بانکي نظام ټولیزه پورونه

د افغانستان په بانکي نظام کې امانات

د افغانستان د بانکي نظام پانګه او ګټه

# د افغانستان بانکي نظام



# د افغانستان بانکي نظام

## د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی

د افغانستان بانکي نظام د هېواد له بریالیو سکتورونو څخه شمېرل کیږي. دي نظام د وخت په تېریدو په نوي بانکي ابتکاراتو او محصولاتو سره د افغانستان د خلکو پام ځانته راوګرځوه او ښه بانکي خدماتو په وړاندې کولو سره یې د نورو اقتصادي سکتورونو په منځ کې ځانګړی ځای پیدا کړی. بانکي سیستم چې په ۱۳۸٦ هجري لمریز کال کې له ۱٦ بانکونو جوړ ؤ، په ۱۳۸۷ هجري لمریز کال کې د مرکزي بانک لخوا غضنفر بانک ته د فعالیت په جواز ورکولو سره ۱۷ بانکونو ته زیاتوالی وموندە.

د افغانستان بانک، د بانکي نظام د یو څارونکي ارګان په توګه، د دې ترڅنګ د مالي نظام له کارکردګیو څخه څارنه کوي، د نویو قوانینو او مقرراتو په وضع کولو سره هڅه لري تر څو د افغانستان د بانکدارۍ نظام ته لا پراختیا ورکړي او د نوي بانکي محصولاتو او د سالمې سیالۍ په اړانه کې، ګرانو هېوادوالو ته د خدمت مصدر وګرځي.

اوس مهال ۱۷ بانکونه د افغانستان د مالي نظام په اړانه کې فعالیت کوي چې له هغې جملې دوه یې دولتي بانکونه، ۱۰ یې خصوصي بانکونه او ۵ یې د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ دي، چې دغه بانکونه د ۲۵٤ نمایندګیو او خدماتي واحدونو له لارې د هیواد په ۳۰ ولایتونو کې بانکي اسانتیاوې وړاندې کوي.

په همدې توګه کې د افغانستان بانک د اسعارو د صرافانو او د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د چارو د لاښه تنظیم او قانوني کولو لپاره د جواز ورکونې لړۍ په شدت سره پلې کړې او په ورته وخت کې یې د غیر قانوني فعالیتونو د احتمالي خطراتو مخه نیولی ده او هڅه یې کړې ده چې د ډیری شمېر صرافانو او پولي خدماتو وړاندې کوونکو کار او فعالیت قانوني کړي. په همدې موخه د هغو صرافانو شمېر چې د افغانستان بانک څخه یې جوازونه تر لاسه کړي دي، په ۱۳۸۷ هجري لمریز کال کې ۳۷٤ تنو ته رسیده، په داسې حال کې چې په ۱۳۸٦ کال کې یې شمېر ۱۷٤ تنه وه او په ورته وخت کې د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو شمېر چې له مرکزي بانک څخه یې جوازونه ترلاسه کړي ؤ، په همدې کال کې ۱۱۱ تنو ته ورسیده، په داسې حال کې چې تیر کال د دوی شمېر یوازې ۹۹ تنو ته رسیده.

دې قانوني بهیر پر صرافانو او د پولي خدماتو پر وړاندې کوونکو باندې له یوې خوا د خلکو د لا اعتماد لامل شوی او له بلې خوا پر هغو جنایتکارو ډلو چې د پیسو د سپینوالي یا د تروریزم د تمویل قصد یې درلوده، ډېر تنګ کړی او د صرافی او پولي خدمتونو کار یې لا قانوني کړی دی.

| نمایندګی / خدماتي واحدونه | د فعال بانکي اسانتیاو مجموع |
|---|---|
| د فعالیت له نامحدودې ساحې سره نمایندګی | ۱٤۷ |
| د فعالیت له محدودې ساحې سره نمایندګی | ۷۳ |
| د صرافی اتومات ماشینونه | ۳۳ |
| د بهرنیو بانکونو د اړیکو دفترونه | ۱ |
| **مجموع** | **۲۵٤** |




د افغانستان بانکي نظام، څرنګه چې اشاره وشوه په تېرو څو کلونو کې بې ساري بریالیتوبونه تر لاسه کړي دي او له بنه ګټورتیا څخه برخمن دی. هغه شمېره چې د بانکي نظام د شتمنیو، ورکړو، اماناتو، پورونو، پانګې او ګټې په اړه موجودې دي، دا ښیي چې دې نظام د پراختیا او پرمختګ په لور حرکت کړی او ډېر ښه رول یې په اقتصادي ودې کې لوبولی دی او زمونږ هېوادوالو ته یې د مستقیمو او غیر مستقیمو دندو د برابرولو زمینه برابره کړې ده.

لاندې په ترتیب سره د شتمنیو، اماناتو، پورونو، پانګې او ګټې او د افغانستان د بانکي نظام نورې بریاوې به په لنډ ډول تر ارزونې لاندې ونیسو:

## د افغانستان د بانکي نظام ټولیزه شتمنی

د بانکي سیستم ټولیزه شتمنی په ۱۳۸۷ هجري لمریز کې ۱۴٤،۹۸ ملیارده افغانی(۲،۲۸ میلیونه ډالره) ته زیاته شوې چې د ۱۳۸٦ کال له پای (د ۲۰۰۸ مارچ) څخه ۷۳،۳۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. په داسې حال کې چې د ۱۳۸٦ کال په کب کې د بانکي سیستم ټولیزه شتمنی ۸۳،۷ ملیارده افغانی(۱،۷ ملیارده ډالره) وه. د خصوصي بانکونو د ګروپ ټولیزه شتمنی په دې دوره کې تر ټولو ډېره وده درلوده چې دا وده د تېر کال په پرتله په سلو کې ٦۸ زیاتوالی ښکاره کوي. همدا ډول د دولتي بانکونو ټولیزه شتمنی د ۱۳۸٦ کال په پرتله ٤۳ سلنه او د بهرنیو بانکونو د څانګو ټولیزه شتمنی ۱۷ سلنه وده کړې ده.




(ارقام په ملیون ډالر)



(ارقام په مليون ډالر)

## د افغانستان د بانکي نظام تولیزه پور

د افغانستان د بانکي نظام له شتمنيو څخهناخالص پورونه، په ۱۳۸۷ هجري لمريز کال کې ۵۲،۱۵ ملیارده افغانۍ(۱ مليون ډالرو) ته زيات شول چې د تير کال په پرتله ۲٦ سلنه زياتوالی ښکاره کوي؛ په ۱۳۸٦ هجري لمريز کال کې د بانکي سيستم تولیزه خالص پورونه ۳،۴۱ ميلیارده افغانۍ(۸۰۲ ميليونه ډالرو) ته رسيدل، د بانکي سيستم پورونه اوس مهال د تولیزه شتمنيو ۳٦ سلنه جوړوي، خالص پورونه په همدې دوره کې ۵۰،۵۳ ملیارده افغانۍ(۹۸۱ ملیونه ډالرو) ته رسيږي او د تولیزه شتمنيو ۳۵ سلنه جوړوي. د دې پورونو له جملې څخه په بانکي سيستم کې په افغانيو د پورونو کچه ۱٤،۱ميليارده افغانۍ(۲۷٤ مليونه ډالره) يا د تولیزه پورونو په سلو کې ۲۷ او د تولیزه شتمنيو ۱۰ سلنه جوړوي او ډالري پورونه ۳۷،۹٤ ملیارده افغانۍ(۷۳٦ مليونه ډالره) يا د تولیزه پورونو په سلو کې ۷۳ يا د تولیزه شتمنيو په سلو کې ۲٦ برخه جوړوي. صعب الحصول پورونه (هغه پورونه چې له ۹۱ موعده څخه اوختبتي او نا سنجشي او نور نا سنجشي پورونه) ۵۹۹ مليون افغانۍ( ٦،۱۱ ميليونه ډالرو) ته زيات يا د تولیزه نا خالصو پورونو په سلو کې ۱،۱۵ جوړوي، چې د تير کال په پرتله په کې ۳۱۹ مليونو افغانيو په اندازه زياتوالی راغلی دی.

معکوس ډله بندي شوي پورونه (هغه پورونه چې تحت المعيار، مشکوک او خساره کټګوريو کې راځي) ۱،۹ ملیارد افغانۍ( ۳٦،۹۱ مليون ډالرو) ته زيات شوي او د تير کال ۱،۵٦ سلنې ناخالصه پورونو څخه يې په ۱۳۸۷ هجری لمريز کال کې ۳،۷۹ سلنې ته زياتوالی موندلی دی، په تېر کال کې معکوساً صنف بندي شوي پورونه ٦۴۴ مليونه افغانۍ ته رسيدل.



همدارنګه په نظر وړ کټګورۍ کې صنف بندي شوي پورونه چې د صنف بندي شويو پورونو په منځ کې تر ټولو لوړه سلنه جوړوي، د تیر کال ۵،۷۳ سلنې څخه په دې دوره کې ۱۰،۸۷ سلنه زیاتوالی موندلی دی. تر نظر لاندې کټګورۍ باید له نږدې څخه د څېړنې او څارنې لاندې ونیول شي، څکه چې دله بندي شوي کټګوریز پورونه، په راتلونکی کې د معکوساً صنف بندي شوي( تحت المعیار، مشکوك او خساره پورونو) د احتمالي زیاتیدنې لامل کیدای شي.

**د سکتوري پورونو جوړښت په لاندې ډول دی**

| د ۱۳۸۷ کال د کب میاشت | |
|---|---|
| رهني او تعمیراتي پورونه | 19.16% |
| نور سوداګریز پورونه | |
| معدن | 0.00% |
| تولیدات | 1.43% |
| سوداګري | 51.46% |
| مخابرات | 0.12% |
| خدمات | 8.56% |
| اسانتیاوې | 1.47% |
| نور سوداګریز پورونه | 9.38% |
| کرنیز پورونه | 0.13% |
| لګښتي پورونه | 2.16% |
| د اشخاصو لپاره د هستوګنې رهني پورونه | 1.22% |
| نور پورونه له پورته یاد شوي مواردو پرته | 4.92% |
| **مجموعه** | **100.00%** |

## په ۱۳۸۷ کال کې د پورونو د وېش مجموع د ولایتونو په کچه په لاندې ډول دی

| شمېره | ولایت | د پور مبلغ (په ملیون افغانی) | د سلنې له قراره د پورونو مجموعه |
|---|---|---|---|
| 1 | اندخوی | - | 0.00% |
| 2 | آقچه | - | 0.00% |
| 3 | بدخشان | 54 | 0.10% |
| 4 | بغلان | 142 | 0.27% |
| 5 | بامیان | 0 | 0.00% |
| 6 | فاریاب | 113 | 0.22% |
| 7 | غزنی | 49 | 0.09% |
| 8 | هرات | 1,901 | 3.64% |
| 9 | جلال آباد | 1,016 | 1.95% |
| 10 | جوزجان | 147 | 0.28% |
| 11 | کابل | 43,527 | 83.47% |
| 12 | کندهار | 348 | 0.67% |
| 13 | خوست | 47 | 0.09% |
| 14 | کنړ | - | 0.00% |
| 15 | کندز | 569 | 1.09% |
| 16 | لغمان | 325 | 0.62% |
| 17 | میمنه | - | 0.00% |
| 18 | مزار شریف | 3,646 | 6.99% |
| 19 | پکتیا | 29 | 0.06% |
| 20 | پنجشیر | 25 | 0.05% |
| 21 | پروان | 169 | 0.32% |
| 22 | پلخمری | - | 0.00% |
| 23 | سمنگان | 10 | 0.02% |
| 24 | تخار | 24 | 0.05% |
| 25 | سرپل | 5 | 0.01% |
| | **مجموعه** | **52,146** | **100.00%** |

## د افغانستان په بانکي نظام کې ټولیزه امانات

امانات د بانکي سیستم د بدیهانو تر ټولو لویه برخه جوړوي او په ۱۳۸۷ هجري لمریز کال کې ۱۱۷،۷ ملیارده افغانۍ(۲،۲۹ ملیارده ډالرو)ته زیات شوي دي. دا شمېره د تیر کال په پرتله ۸٤،۲ سلنه وده ښکاره کوي په ۱۳۸٦هجري لمریز کال کې د بانکي سیستم ټولیزه امانات ٦۳،۹۳ ملیارده افغانۍ( ۱،۳ ملیارده ډالرو) ته رسیدل، د ټولیزه اماناتو یوازې ٤۲ سلنه په افغانی امانات جوړوي چې کچه یې ٤۹،۰۳ ملیارده افغانۍ( ۹۵۲ میلیونه ډالرو) ته رسیږي. ډالري امانات د ټولیزه اماناتو ۵۵ سلنه (٦٤،۱۹ ملیارده افغانۍ – ۱،۳ ملیونه ډالره جوړوي.




## د بانکي نظام پانګه او ګټه

بانکي سیستم کافي پانګه لري او د دې سیستم ټولیزه پانګه (د بهرنیو بانکونو له څانګو پرته چې پانګه نلري) په همدې کال کې ۱۸،۸۲ ملیارده افغانۍ(۳٦۵ ملیونه ډالرو) ته ورسېده. دا مهال د ټولو بانکونو مقرراتي پانګه د افغانستان بانک د حد اقل ټاکلي پانګې ( د شتمنیو په سلو کې ۱۲) څخه زیاته ده.



بانکي سیستم په عمومي توګه پرته له یو بانک څخه ګټور دی. د بانکي سیستم ټولیزه ګټه د ۱۳۸۷ کال په کب کې ۱،۸۳ ملیارده افغانۍ( ۳۵ ملیونه ډالرو) ته زیاته شوې، چې پر شتمنۍ د عاید (ROA) کچه یې د تیر کال په ورته وخت کې (۱،۸۰سلنې) څخه ۷۳،۱ سلنې ته راټیټه شوی ده. په ۱۳۸۷ هجري لمریز کال کې زمونږ څه باندې ۵۹۰۰ تنه هېوادوال د افغانستان په بانکي نظام کې په کار بوخت و او نږدې یو میلیون بانکي حسابونه په دې نظام کې موجود و، چې حساب لرونکو یې له بیلابیلو بانکي خدمتونو او محصولاتو څخه ګټه پورته کړې او د دوي د ژوندانه د کچې په لوړولو کې یې د پام وړ رول لوبولی دی.

| | |
|---|---|
| دکورنیو کارکونکو شمېر | 5,900 |
| د بهرنیو کارکونکو شمېر | 183 |
| د فعلي پور اخیستونکو شمېر | 42,481 |
| د امانات ایښودونکو شمېر | 959,940 |
| د نورو پیردونکو شمېر پرته له پور اخیستونکو او امانات ایښودونکو څخه | 508 |

نړیوال تادیات

بین البانکي تادیات

د نمایندګیو تر منځ تادیات

# د تادیاتو سیستم



# د تادياتو سيستم

په ۱۳۸۷ هجري لمريز کال کې د بانکي تادياتو عملياتي معاونيت د دري ګونو بريښنايي سيستمونو په کارولو سره، د پام وړ تادياتي خدمتونه خپلو مشتريانو( دولتي بنسټونو، سوداګريزو بانکونو، افغانستان مېشته امريکايي ځواکونو او ملي پيوستون) لپاره سرته رسولي، چې په لاندې ډول تشريح کېږي:

## نړيوال تاديات

د پورته ياد شوو مراجعو ټول معاملات د هېواد څخه بهر او برعکس د دې ادارې د بين البانکي تادياتي مديريت له خوا د سويفټ د نړيوالې شبکې په کارولو سره تر سره کېږي. نوموړی سيستم د يو فني او مجرب کاري ټيم لخوا چې د ياد شوي سيستم د چارو په پرمخ بيولو کې پوره تجربه لري، رهبري کېږي. په ۱۳۸۷ کال کې په عمومي ډول (۳۳۰۶) معاملې چې معادل ټوليز ارزښت يې(۲،۷۹۱) مليارده امريکايي ډالره دي، اجرا شوي دي. چې د تير کال په پرتله په سلو کې ۹،۴۲ زياتوالی ښکاره کوي.

د ۱۳۸۶ او ۱۳۸۷ کال نړيوال صادره او وارده انتقالات (ارقام په مليون ډالر)




## بين البانکی تاديات

په دې برخه کې د هغه مجوزه سوداګريزو بانکونو ټولې افغانی او اسعاري معاملې تر سره کېږي، کوم چې په افغانستان کې فعاليت لري. دا معاملات د افغانستان بانک کې د بريښنايي تکنالوژی د سيستم په ګټې اخيستنې سره، اجرا او تصفيه کېږي.

ياد سيستم په ۲۴ ساعته ډول د سوداګريزو بانکونو په خدمت کې دی او ورځني معاملات يې په رسمي ډول د ګمارل شوي تجربه لرونکي کاري ټيم تر څار لاندې ترسره کېږي.

بين البانکي معاملات



د ۱۳۸۷ هجري لمريز کال بين البانکي معاملات د ۱۳۸٦ کال په پرتله په افغانۍ معاملاتو کې په سلو کې ۵۷ وده او ډالري معاملاتو کې په سلو کې ۱،۷ وده ښکاره کوي. دا وده د دې ښکارندوی کوي، چې د ۱۳۸۶ کال په پرتله په ۱۳۸۷ کال کې د بهرنيو اسعارو پر ځای افغانۍ لا زيات دود شوی ده.




## د نمايندګيو تر منځ تاديات

د افغانۍ او امريکايي ډالرو انتقالي معاملات د مرکز او د افغانستان بانک د ولايتي او سرحدي نمايندګيو ترمنځ د برېښنايي تکنالوژۍ د سيستم له لارې د پوهو کارکونکو تر نظر لاندې چې په دې برخه کې لازمه تجربه لري، تر سره کېږي، د افغانۍ معاملو کچه په ۱۳۸۷ کال کې ۱۳۹۹٤ معاملې وې، چې ارزښت يې ۱۲۶،۴۹۱ ميلیارده افغانۍ او ډالري معاملې ۱۰۰۰ چې ارزښت يې ۲۶۴،۷ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي، اجرا شوي دي. په ۱۳۸۷ هجري لمريز کال کې معاملات د تېر کال په پرتله ۲،۶ سلنه زياتوالی ښکاره کوي.

د يادونې وړ ده چې په تادياتي سيستم کې له جدي بدلونونو څخه وروسته په ۱۳۸٦ هجري لمريز کال کې يوازې ٦۳ وارده معاملې او ۲٦ صادره معاملې د تلګرام په واسطه تر سره شوې دي، خو له نيکه مرغه د تادياتي سيستم د لا پراختيا سره، په ۱۳۸۷ هجري لمريز کال کې د تلګرام له سيستم څخه ګټه نده اخيستل شوی او د افغانستان بانک هڅه کوي چې په نږدې راتلونکو کې د مرکزي بانک تادياتي سيستم نور هم پراخه او مدرن کړي، تر څو ډيرې معاملې په لنډ وخت او چټکتيا سره تر سره شي.

د افغانستان بانک اسعاري زیرمې

د اسعاري زیرمو پانګه اچونه

د بهرنیو اسعارو لیلام

د بیه لرونکو پاڼو لیلام

# د بازار عملیات



# د بازار عملیات

د افغانستان بانک له دندو څخه یوه هم د بهرنیو اسعارو په وړاندې د افغانی د ارزښت د ټیکاو خوندیتوب دی او همدارنګه د افغانستان بانک د معقولو پولي سیاستونو په طرحه کولو سره تل هڅه کړی ده چې په بازار کې پولي انډول او سیالیت په پام کې ونیسي، څو د افغانی د ارزښت د ټیټیدو مخنیوي وکړي. په ورته وخت کې د عملیات بازار عمومي مدیریت چې د دې سیاست د پلي کېدو یوه اصلي ستنه ګڼل کیږي، هڅه کوي چې په دوامداره توګه بازار تر پام لاندې ونیسي او د افغانستان بانک د اسعاري زیرمو د پیاوړتیا لپاره هلې ځلې وکړي.

## د افغانستان بانک اسعاري زیرمې

په ۱۳۸۵ کال کې د افغانستان بانک د اسعاري زیرمو کچه۲،۲ ملیارده ډالره وه چې دا شمیره د ۱۳۸۷ کال د کب تر ۳۰ نیټې پورې په سلو کې څه باندې ۵۰ ودې سره، درې ملیارده او شپږ سوه میلونه امریکایي ډالرو ته زیاته شوې ده. باید وویل شي چې د افغانستان بانک د سیالیت د کنټرول او د افغانی د مبادلوي نرخ د ثبات د تامین په موخه د ۱۳۸۷ کال د کب تر پای پورې شاوخوا ۱،۴میلیارده ډالره پلورلي دي. له بلې خوا د ډالرو، یورو او د پونډ د بهرې نرخونو د کموالي سره په بهر کې د افغانستان بانک د اسعاري زیرمو عایدات په ۱۳۸۷ کال کې څه باندې ۶۰ ملیونه ډالرو ته ورسیدل.

## د اسعاري زیرمو پانګه اچونه

خرنګه چې د معامله لرونکو بهرنیو بانکونو سره د افغانستان بانک د شتمنیو د زیرمو بیلانس لیدل کیږي، د افغانستان بانک د ټولیزه شتمنیو بیلانس په ۱۳۸٦ هجري لمریز کال کې ۳/۰۲۱/۴۸۶/۷۴۴/۴۶ ډالره ؤ، چې د ۱۳۸۷ هجري لمریز کال په ورستیو کې د یو کال په موده کې ۳/۶۳۷/۱۶۵/۶۸۲/۹۹ ډالرو ته زیاتوالی موندلی دی او په سلو کې ۱۶،۹۳ وده ښکاره کوي. د دې اسعاري زیرمو پانګونه په لاندې توګه په بیلا بیلو حسابونو او بیه لرونکو پاڼو کې ترسره شوې ده:




– د بهرنیو بانکونو سره په بیه لرونکو دولتي اسنادو کې۸۳۵/۰۴۰/ ۳۳۶ ډالر

- د بهرنیو بانکونو سره د اماناتو په میعادي حسابونو کې ۱/۵۰۳/۰۶۶/۸۷۹ ډالر

– د بهرنیو بانکونو سره د کال اماناتو په حسابونو کې ۶۴۸،۱۶۸،۱۴۷ ډالر

– د بهرنیو بانکونو سره د جاري اماناتو په حسابونو کې ۲۰/۵۵۹/۵۸۶ ډالر

– د نیویارک فیدرل ریزرف بانک کې خوندي شوي سره زر ( معادل ۷۹۱/۷۹۴/۴۶۸ ډالرو معادل)

– د نړیوال بانک سره د ARMP په حسابونو کې ۶۰۰/۰۰۰/۰۰۰/۰۰ ډالر

– د دولت د تادیاتو او د افغانستان بانک د ډالري اړتیاو د پوره کولو لپاره ۲۰۶/۴۶۹/۹۴۵ ډالر په نقدي توګه د مرکز او ولایتي نمایندګیو په خزانه کې ساتل کیږي.

په ټولیزه توګه ۶۰/۵۲۶/۴۲۸ ډالره په ۱۳۸۷ هجري لمریز کال کې د افغانستان بانک د اسعاري زیرمو د پانګې اچونې څخه د ټکتاني په توګه لا سته راغلي دي.




## د بهرنیو اسعارو لیلام

په ګردښت کې د پیسو د کنټرول او د پولي انقباضي سیاست په پام کې نیولو سره او په ورته وخت کې د بهرنیو اسعارو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې د ارزښت د ټيکاو لپاره د ۱۳۸۷کال له پیل څخه تر پای پورې په ټولیزه توګه ۱/۴۱۴/۸۵۰/۰۰۰ ډالره د اونیزه لیلامونو له لارې پلورل شوي دي، چې د پیرل شویو افغانیو څخه د دولتي ادارو او بهرنیو موسساتو او ارګانونو د لګښتونو د تادیې لپاره کار اخیستل شوی دی.

دا سیاست چې پدې څو وروستیو کلونو کې د افغانستان بانک لخوا تر لاس لاندې نیول شوی دی، د سیالیت ( نقدینګی)، د پیسو د عرضې او همدارنګه د بهرنیو اسعارو په وړاندې د افغانۍ د مبادلوي نرخ د ټيکاو په برخه کې ښه رول لرلی دی. خو د یو اوږد مهالې وسیلې په توګه کولای شي د افغانستان بانک په اسعاري زیرمو منفي تاثیرات پریږدي، له دې امله مرکزي بانک هڅه کوي چې د بیه لرونکو پاڼو پلورلو ته لا پراختیا ورکړي او په ورته وخت کې د ثانوي بازار د جوړولو په موخه، چې کارونه یې عمدتاً پرمختللي دي، نور اړین ګامونه پورته کړي. همدا ډول د افغانستان بانک تصمیم لري چې په راتلونکو څو کلونو کې د سهام بازار هم جوړ کړی او د پولي سیاست د ابزارو لست نور هم پراخه کړي.

## د بیه لرونکو پاڼو لیلام

بیه لرونکي پاڼې هغه لنډ مهاله بیه لرونکي اسناد دي چې خصوصي بانکونه د هغې له لارې خپلې اضافي زیرمې د پانګې اچونې په توګه د مرکزي بانک سره بږدي، له هغه ځایه چې بانکي سکتور کې د سیالیت زیاتوالی د اقتصادي فعالیتونو د ډیروالي او ورسره سم د پولي تورم د لوړیدو لامل کیږي، نو د پولي سیاست د دې ابزار د معرفی عمده لامل، د بانکي سکتور د سیالیت کنټرول دی. سربیره پردې د بیه لرونکو پاڼو سره د مرکزي بانک او سوداګریزو بانکونو اشنایي به د مالیې وزارت د پور د اسنادو د پلورلو او پیرودلو په برخه کې د پام وړ مرسته وکړي؛ په هغه صورت کې چې نوموړی وزارت د لګښتونو د لا ښه تنظیم په موخه د دې اسنادو د پلورلو تصمیم ونیسي.

مرکزي بانک توانیدلی چې په ۱۳۸۷ کال کې د لازمو تدابیرو په نیولو سره په بیه لرونکو پاڼو کې د سوداګریزو بانکونو د پانګې اچونې کچه شاوخوا ۲۰ ملیارده افغانیو ته زیاته کړي. د ۱۳۸۷ کال د کب میاشتې د شمیرو له مخې، دا شل ملیارده افغانی په ۲۸ ورځني او ۱۸۲ ورځني بیه لرونکو پاڼو کې پانګونه شوې ده او د کب میاشتې د وروستی اونی د ټکټاڼې اوسط نرخ په ترتیب سره په سلو کې ۹،۳۹ او ۱۰،۷۵ وو.

خرنګه چې ليدل کيږي په ۱۳۸۷ هجري لمريز کال کې په اونی کې يو ځل د دې اداري لخوا د کپيټل نوټ ليلام تر سره شوی چې په ترخ کې ۲۸ ورځني او ۱۸۲ ورځني کپيټل نوټونه ليلام شوي دي. په ياد شوي وخت کې په ۲۸ ورځني کپيټل نوټ کې په ټوليز ډول ۵۲/۴۹۷/۰۰۰/۰۰۰ افغانی او په ۱۸۲ ورځني کپيټل نوټ کې په ټوليزه توګه۱۲/۹۸۰/۰۰۰/۰۰۰افغانی ليلام شوي دي او په ليلام کې بريالي بانکونو ته د دواړو ډولو کپيټل نوټونو د ليلام له امله ۱/۵۳۹/۳۱۴/۰۸۴ افغانی ټکټانه ورکړل شوي ده.




د ۱۳۸۷ هجري لمريز کال په پيل کې د ټکټانې اوسط نرخ د ۲۸ ورځني او ۱۸۲ ورځني کپيټل نوټونو لپاره شاوخوا ۱۵ يا ۱۶ سلنه و، چې د همدې کال په ترخ کې د اونيزو ليلامونو له امله نرخونه کنټرول شوي او په تدريجي توګه لاندې راغلي او د کال په پای کې په سلو کې د ۱۰ او ۸ ترمنځ رارسيدلی دي.

د ۱۳۸۷ کال په اوږدو کې د يوې شپې د اماناتو آسانتيا (Overnight Deposit Facility) چې د سوداګريزو بانکونو لخوا د مرکزي بانک سره ايښودل کيږي، کچه ۴/۵۳۹/۸۸۰/۱۷۹ افغانی ته ورسيدل چې له دې امله د افغانستان بانک ۰۱۵/۴۳۳/۳۹۰ افغانی سوداګريزو بانکونو ته ټکټانه ورکړې ده.

همدا ډول په همدې موده کې د افغانستان بانک سره د سوداګريزو بانکونو اجباري زيرمو ( Required Reserve) له امله ۴۳۳،۸۳۸،۳۱۵ افغانی ټکټانه سوداګريزو بانکونو ته تاديه شوي ده. همدا ډول په ۱۳۸۷ هجری لمريز کال کې په ټوليزه توګه ۸۰۲/۸۴۸/۴۱۲ افغانی ( د Overnight Credit Facility) له لاري بانکونو ته تاديه شوي او په مقابل کې يې ۱/۲۲۰/۷۳۶ افغانی ټکټانه لاس ته راغلي ده.



بیلانس شیټ

د ګټې او تاوان صورت حساب

# مالي صورت حساب



# مالي صورت حساب

د افغانستان بانک

## بیلانس شیټ

د ۱۳۸۷ کال د حوت ۳۰ نیټه

ارقام په زر افغانی

| شتمنی | یادداشت | ۱۳۸۷ | ۱۳۸۶ |
|---|---|---|---|
| د سرو زرو زېرمې | ٤ | ۳٤،٦٤۰،۹۳٤ | ۳۳،۲۹۸،٤٤۷ |
| د بهرنیو اسعارو نقده ذخیرې | ٥ | ۷،۰٤٤،۷٦٥ | ٤،۱٥۸،٤۲۲ |
| پر بانکونو او مالي موسساتو طلب | ٦ | ۱۱۹،۳۳٦،۳۱۷ | ۸٥،۱۰٦،۰٥۱ |
| د بیلونو ټریژري(د دولتي لنډ مهاله پورونو اسناد) | ۷ | ۲۲،۸۷۷،۰۹۳ | ۲٥،۷۳٦،٥۹۸ |
| طلبات او نور د حصول وړ شتمنی | ۸ | ٥٦٥،۳۳۷ | ۱٦،۹۹٥ |
| پانګه اچول شوي ملکیتونه | ۹ | ٤،۸۰۰ | ٤،۸۰۰ |
| جایدادونه او تجهیزات | ۱۰ | ۲،۲۳۲،۳۱٦ | ۲،۲۱۰،٤۹۳ |
| ناملموسه شتمنی | ۱۱ | ۱۹،۰۹٦ | ۲٦،۷۸٥ |
| نورې شتمنی | ۱۲ | ۱٤،۳۱۷،۷٤۳ | ۱۳،٦۸۸،۲۱٥ |
| د شتمنیو مجموعه | | ۲۰۱،۰۳۸،٤۰۱ | ۱٦٤،۲٤٦،۸۰٦ |
| ورکړې مکلفیتونه او د پانګې سهمیه (اکویتی) | | | |
| ورکړې | | | |
| په دوران کې پیسې | ۱۳ | ۷٦،۸۰۷،۲٥۹ | ٥۸،۹٦٥،٤۹۰ |
| کپیټل نوټ( ارزښتناکه اسناد) | ۱٤ | ۱۸،۹۲٥،۸۸٦ | ٤،٥۱۹،۰٦۱ |
| د نورو بانکونو او مالي موسساتو طلبات | ۱٥ | ۳۱،٤۱۸،۱۹٦ | ۷،٤۷۰،٦۸۹ |
| مشتریانو ته دیون | ۱٦ | ۳٦،۲۳۸،۹۳۱ | ٤۲،۰۳۹،۳۷۲ |
| ورکړې( ای . ام . اف ) | ۱۷ | ۳٥،٥۱۱ | ۳۲،۰٤۹ |
| د متقاعدینو حقوق | ۱۸ | ۲۹٥،۰۳٦ | ۲۹٥،۰۳٦ |
| کمک های به تعویق افتاده | ۱۹ | ۱٦۰،۷۸۲ | ۱٦۸،۱۱۸ |
| تدارکات(پرویژنونه) او د ورکړې نورمکفیتونه | ۲۰ | ۸،۰٤۸،۸۳٦ | ۱۱،۳٦٦،٦۱۷ |
| | | ۱۷۱،۹۳۰،٤۳۷ | ۱۲٤،۸٥٦،٤۳۲ |
| پانګه( اکویتی ) | | | |
| پانګه | ۲۱ | (۹۷٥،۳٦۰) | ۳،۰۹۱،۹۷۹ |
| بیا ارزښت موندونکی زېرمې | ۲۱ | ۳۰،۰۸۳،۳۲٤ | ۳٦،۲۹۸،۳۹٥ |
| متراکم زیانونه | ۲۱ | | - |
| د خالصې شتمنی مجموعه | | ۲۹،۱۰۷،۹٦٤ | ۳۹،۳۹۰،۳۷٤ |
| د ورکړې او خالصې شتمنی مجموعه | | ۲۰۱،۰۳۸،٤۰۱ | ۱٦٤،۲٤٦،۸۰٦ |

له یو څخه تر ۳۳ شمېرې پورې ضمیموي یادداشتونه د دې مالي صورت حساب اساسي برخې جوړوي.

| مسعود خان موسی غازی | محب الله صافی | عبدالقدیر فطرت |
|---|---|---|
|  |  |  |
| عمومي مالي آمر | د افغانستان بانک لومړی مرستیال | د افغانستان بانک لوی رئیس |

**دافغانستان بانک**

## د ګټې او تاوان صورت حساب

**د ١٣٨٧ کال د کب ٣٠ نیټه**

| | یادداشت | ١٣٨٧ (افغانی ٠٠٠) | ١٣٨٦ |
|---|---|---|---|
| د ټکټاني عاید | ٢٢ | ٣،٠٧٤،٦١٦ | ٤،٢٢٨،١١٢ |
| د ټکټاني مصارف | ٢٣ | (٢،٠٩٢،٠٩١) | (٤٨٠،٥٦٦) |
| د ټکټاني خالص عاید | | ٩٨٢،٥٢٥ | ٣،٧٤٧،٥٤٦ |
| د فیس او کمیشن عاید | | ١٤٠،٨٨٦ | ١٧٢،٦٣١ |
| د فیس او کمیشن مصارف | | (١٨،٤٩٤) | (٨،٢٤٦) |
| د فیس او کمیشن خالص عاید | | ١٢٢،٣٩٢ | ١٦٤،٣٨٥ |
| د بهرنیو اسعارو د تبادلې له امله ګټه/ تاوان | | (٣٠٧،٠٤٨) | ٣٣٤،٥٦٧ |
| نور عملیاتي عواید | ٢٤ | ٦٤،٨٩١ | ٥٦،٢٠٩ |
| | | (٢٤٢،١٥٧) | ٣٩٠،٧٧٦ |
| عملیاتي عواید | | ٨٦٢،٧٦٠ | ٤،٣٠٢،٧٠٧ |
| د تطبیقاتو له امله تاوان | ٦،٢ | | (٧٧٩،٩٠٠) |
| د مالي شتمنیو د ارزښت له کموالی څخه خالص تاوان | ٨،٤ | | (٣٢٣،٤٨٨) |
| د کارکوونکو مصارف | ٢٥ | (٥٢٣،٣٦٣) | (٢٢١،٤١٠) |
| د بانکنوټونو د چاپ مصارف | | | (٢٠٤،٦٨٩) |
| نور مصارف | ٢٦ | (١٥٥،٤٧٧) | (١٠٢،١٦٥) |
| د تنقیض شوو مامورینو مصارف | ٢٠،٢ | (٧٣،٢٦٥) | (٥٠٢،٦٢٦) |
| استهلاک یا فرمایشونه | ١٠&١١ | (٥٨،٩٤٣) | (٥٤،٧٢٢) |
| خالص عملیاتي عواید | | ٥١،٧١٢ | ٢،١١٣،٧٠٧ |
| د تبادلې نرخ کې غیر حقیقي ګټه او تاوان | ٢١،٤،٢ | (١٠،١٧٠،٣٧٨) | ٣،٢٤٠،٣١٠ |
| کلنی ګټه او تاوان | | ١٠،١١٨،٦٦٦ | ٥،٣٥٤،٠١٧ |

د ١ څخه تر ٣٣ شمېرې پورې ضمیموي یاداشتونه د دې مالي صورت حساب اساسي برخې جوړوي.

| مسعود خان موسی غازی | محب الله صافی | عبدالقدیر فطرت |
|---|---|---|
| عمومي مالي آمر | د افغانستان بانک لومړی مرستیال | د افغانستان بانک لوی رئیس |

د حقوقي مشاوريت دفتر

د ريسک منجمنټ اداره ( د مالي خطراتو اداره)

معلوماتي تکنالوژی

بشري منابع

# اداره او پراختيا



# اداره او پراختیا

## د حقوقي مشاوریت دفتر

د حقوقي مشاوریت دفتر چې د بانکي نظام لپاره د نوي مقررو او قوانینو د برابرولو او تسویدلو او همدارنګه مرکزي بانک ته د فعالیتونو د لا قانوني کولو په موخه مشوري ورکولو لپاره تاسیس شوی دی، په ۱۳۸۷ کال کې يې لاندې لاسته راوړنې لرلي دي:
په بانکي معاملاتو کې د غیر منقولو اموالو د رهن قانون تسوید، په بانکي معاملاتو کې د منقولو اموالو د رهن قانون تسوید، د معاملاتو وړ اسنادو د قانون تسوید، د پولي خدماتو د چمتو کوونکو په مقرره کې د تعدیلاتو منظوري، بیه لرونکو پاڼو د پلور لپاره د ثانوي بازار د مقررې منظوري، د هیواد څخه بهر د خطر د څارنې او انتقالاتو د، د عملیاتي خطرې د ادارې د مقررې منظوري، د مارکیټ د خطرې د ادارې د مقررې منظوري، د کریډیټي خطرې د ادارې د مقررې منظوري، د سیالیت خطرې د مقررې منظوري، د بهرنیو اسعارو د تبادله کوونکو په مقرره کې د وارده تعدیلاتو منظوري، د افغانستان بانک د کارکوونکو د استخدام د مقررې منظوري او پر نورو قانوني او مقرراتي موادو کار کول له هغو مهمو کارونو څخه دي چې د افغانستان د مالي نظام د پراختیا او ودې لپاره ډیر مهم بریښي او دا دفتر توانیدلی چې په بریالیتوب سره مقرراتي او قانوني اړانه پیاوړې کړي.

## د ریسک منجمنټ اداره(د مالي خطراتو اداره)

د مالي خطراتو اداره چې د افغانستان بانک په اړانه کې د ۱۳۸۷ کال په حمل کې د هیواد مالي سکتور او بانکي سیستم د ټولو مالي خطراتو د تنظیموونکي ادارې په توګه جوړه شوې؛ چې د دې ادارې له عمده موخو څخه د بیلا بیلو خطراتو لپاره د پالیسیو طرحه کول، ارزونې، څارنې او د ډولونو د اندازه کولو لپاره د مقرراتو او طرزالعملونو جوړول دي، چې هدف يې د دې خطراتو کموالی دی.
د مالي خطراتو عمومي مدیریت په خصوصي بانکونو کې د خطراتو د څیړنې په موخه د ۱۳۸۷کال له دویمې نیمایی څخه د بانکونو د څارنې د عمومي مدیریت د مختلفو کاري ډلو سره په همغږۍ کې د خطراتو د تشخیص بهیر د ساحې دننه پیل کړی، چې همدې کال په اوږدو کې په ټولو سوداګریزو بانکونو کې د خطراتو د ارزونې یو پړاو بشپړ کړی دی او د بیلا بیلو خطراتو مختلفې کټګورۍ لکه: : د اعتباراتو خطرات، عملیاتي خطرات، د ادارې او مدیریت خطرات او نقدینه ګۍ خطرات د بازار د خطراتو په کټګورۍ کې، تشخیص کړې او دا مدیریت د ګټورو لارښونو سره توانیدلی دی چې له دې خطراتو څخه یو شمېر حل او له هغوې څخه مخنیوی وکړي.
د مالي خطراتو عمومي مدیریت د بانکونو د څارنې د عمومي مدیریت سره په نږدې همکارۍ کې، په ځانګړو نظارتونو کې هم ګډون کړی. چې له هغې جملې څخه کولای شو د افغانستان د انکشافي بانک له ځانګړې څارنې څخه نوم واخلو. له هغه ځایه چې د افغانستان انکشافي بانک په یو نامطلوب او زیانمن حالت درلود، د مرکزي بانک د لارښونو پر بنسټ د پنځو میاشتو په ترڅ کې دې مدیریت د نوموړي بانک د ستونزو د لمنحه وړلو لپاره د مالي نظارت له مدیریت سره یو ځای زیاته څخه وکړه او په منظمه توګه يې د هغه بانک سیالیت، اعتباري او عملیاتي برخې څیړلې او لازم تصمیمونه يې د نوموړي بانک د ستونزو د حل لپاره ونیول.

## بشري منابع

د افغانستان بانک د یو مرکزي مدرن بانک د جوړیدو په موخه، د اداري اصلاحاتو لړۍ تر لاس لاندې نیولې او په خپل مخکني تشکیل کې يې یو لړ بدلونونه عملي کړي دي، چې پر بنسټ يې لاندې ډیپارټمنتونه نوي په تشکیل کې شامل شوي دي:
۱– مالي خطرات ( Management and Modeling Group)
۲– د معاملاتو د څیړنې مرکز او د افغانستان مالي راپوورونه ( Financial Intelligence Unit)
۳ – ( د افغان اماناتو د بیمې اداره ) ، Corporation Afghan Deposit Insurance .

۴ – (د اعتباراتو ځانګې د راپور ورکونې اژانس Credit Information Bureau).

۵- د مالي شخړو د حل کميسيون.

۶- د مالي نظام د پروژې د ټيګښت مديريت( Project management ) (چې نړيوال بانک يې تمويلوی) نوی جوړ او په فعاليت يې پيل کړی دی.

د افغانستان بانک د عالی شورا لخوا د منظور شوي تشکيلاتي اصلاحاتو د پلي کولو په موخه يو شمېر کارکونکو له مرکز او ښاري نمايندګيو څخه په مختلفو برخو کې خپلې دندې له لاسه ورکړې، چې د مرکزي بانک د عالي شورا د تصويبونو په پيروی، په لومړی مرحله کې ۵۴۵ تنو کارکونکو عمدتاً په داوطلبانه ډول په ځانګړي امتياز سره، چې د بانک د عالي شورا لخوا ورته په پام کې نيول شوي و، له مرکزي بانک څخه يې خپله علاقه پرې کړه.

د افغانستان بانک د قانون پربنسټ د افغانستان بانک د مرکزي بانک په توګه نشي کولای سوداګريز فعاليتونه تر سره کړي او د بيلا بيلو ادارو، تصديو او مؤسسو پولي خدمات اجراء کړي، نو له همدې امله د افغانستان بانک پريکړه وکړه چې دا خدمات چې د مرکزي بانک د ښاري ځانګو لخوا ترسره کيدل، سوداګريزو بانکونو ته وسپارل شي. نو لدې کبله د افغانستان بانک خپلې اضافی ځانګې چې نور ورته اړتيا نه ليدل کېده د مرکزي بانک د عالي شورا له تصويب څخه وروسته محدودې کړې او يو شمېر ښاري ځانګې يې له نورو ښاري ځانګو سره يو مدغم کړې. چې د دې کار په پلي کولو سره، د مرکز او ښاري ځانګو۱۷۳ کارکوونکي اضافه تشکيل او د هغه امتياز سره چې په لومړي پړاو کې په پام کې نيول شوی و، دا کار کوونکي هم تنقيص شول او علاقه يې د بانک څخه په داوطلبانه توګه پری شوه.

## معلوماتي تکنالوژی

د معلوماتي تکنالوژی عمومي مديريت، د افغانستان بانک د مهمو مديريتونو څخه ګڼل کيږی. دا مديريت مسوليت لري چې د بانک د کمپيوټرو، پرنټرو او د مرکز د ټولو معلوماتي شبکو ساتنه وکړي او په ټول هېواد کې له نمايندګيو سره د مرکزي بانک بريښنايي اړيکې ټينګې وساتي.

همدارنګه دا مديريت اند لري تر څو د بانکي سيستمونو د سرورنو ساتنه وکړی او پدې ډاډه شي چې سرورونه په دوامداره توګه فعال دي او هيڅ ډول ستونزه د بريښنايي اړيکو په ټينګولو کې موجوده نه ده.

د معلوماتي تکنالوژی د عمومي مديريت د دندو په لړ کې دا مديريت توانېدلی دی، چې په ۱۳۸۷ هجري لمريز کال کې د افغانستان بانک د سمنګان، شبرغان، کنړ، پروان، حيرتان، تخار، پلمخري، ميمنه، نيمروز، لوګر، تورخم او فراه ولايتونو کې ۱۲ نمايندګی په برياليي توګه د CBS سيستم سره وتړي او پلان لري تر څو پاتې نمايندګی هم د CBS له سيستم سره په راتلونکي کې ونښلوي.










ct blend.
Kabul





